مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال ۲۰۲۱/۰۲/۰۶

خپلې اوبه

خپل واک

(کمال خان بند او نوی ژوند)

بس موږ وو، کربلا وه، جل وهلي لمرسیزلي
د وینو لکې داري وې او موږ وو سروهلي

شین ډنډ د لاژوردو مو راوتاړه له څاڅکو
د خپلو غرو رغو له رنو اوښکو راوتلي

زخمي، زخمي لاسونه ورته نیسو لپې لپې
بند، بند غوڅې مرۍ مو دي په غوړپ، غوړپ پرې مینځلي

د شمر غشي اوري په منګیو، کنډولیو
موږ ماتې، ماتې متې له اوبو راګرځولي

له مخ نه به مو (آب) ځي او له رګ، رګ څخه وینه
ترڅو مو چې د ژوند چینې وړیا (ور)بهیدلي

ډنډونه مو غیرت دي او ډنډونه مو ایمان دي
خالق وایي: " د (ژوند) ریښې اوبو ته غځېدلي* "

راځئ، چې لکه غرونه غېږ چاپیره له څپو کړو
توپان، توپان دوښمن ته هسکه غاړه درېدلي

---

*و جعلنا من الماء کل شئ حي. الاية

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ